چانگ چیه چنګ
ژباړه: فرهاد ویاړ
۰۳ اکتوبر ۲۰۱۷

## نورمن بسیون په چین کې

**(۹)**



څه موده وروسته، ملګری بسیون د **شنپي** کلي ته، چیرې چې غلچکي جګړه روانه وه، لاړ او هلته یې د صحرایي روغتونونو لپاره یوه رساله ولیکله. دا رساله چې په جګړه ایزه حالاتو کې د روغتیایي خدمتونو په اړه وه، د صدر مائو د ستراتیژیک تفکر د نظریاتو په رڼا کې ولیکل شوه.



که څه هم ملګری بسیون تل په حرکت کي و، خو د هغه روغتیايي خدمتونه یوازې د ټپیانو لپاره نه وو، بلکي عادي وګړو ته هم رسیده. نو د همدې لپاره پرګنو هغه ته «زمونږ د ډاکټر» لقب ورکړی و.



یوه ورځ ملګری بسیون د **هوچیاچوانګ** کلي ته لاړ. مخکي له دې چي کلي ته ونوځي، سترګي يې هغه بزګر ته واوښتي چي لاس يې پړسیدلی و او سخت کړیده. بسیون، ناروغ بزګر له ځان سره درملځای ته بوت.



کله چي جراحي پای ته ورسیده، ملګري بسیون ناروغ ته وویل:«هیله کوم کلیوالو ته ووایئ چي زه د اتم پلي پوځ ډاکټر یم او که کومه روغتیایی ستونزه لري نو ما ته  دې درملني لپاره راشي.»



دوه ورځې وروسته، ملګری بسیون، د بزګر کور ته لاړ چې د هغه د لاس پانسمان بدل کړي. بزګر چې ډیر تر اغیزې لاندې راغلی و، وی ویل: «نه پوهیږم څنګه له تا مننه و کړم.» ډاکټر بسیون په ځواب کې وویل:«زما څخه مننې ته کومه اړتیا نشته، ته باید د پلي اتم پوځ څخه مننه وکړې.»



ناروغ بزګر چې ښه شوی و، ډاکټر بسیون ته هګۍ او خرما د ډالۍ په توګه راوړی. بسیون اول هغه وانخیستی، خو چې د هغې ټینګار یې ولید نو یو څو دانې ترې واخیستې او بیا یې روغتیاپال ته وویل چې ټپیانو ته ورسیږي.



یوه ورځ بسیون خبر شو چې په یوه نښته کې یو سرتیری ډیر سخت ټپي شوی دی او د مرګ په درشل کې دی. ملګري بسیون پر آس سپور شو او پنځه ویشت کیلومتره یې آس وځغلوه څو د جګړې ټپي سرتیري ته ورسید.



هوا تیاره شوی وه چې ډاکټر بسیون د جراحی عملیات پای ته ورسوو او بې ځنډه خپل هستوګنځ ته راستو شو چې هغو ناروغانو ته چې د علمیات لپاره یې نوبت نیولی و، ورسیږي.